وړوکي مسلمان

دمسلمان ماشوم لپاره داسلام اساسیاتو
باندي مشتمل متن

د الجیریا څخه د ډاکټرانو یوې ډلې لخوا چمتو شوی
د لوبې کولو او زده کړې لپاره یوه ویب پاڼه جوړه کړئ

هیثم سرحان alsarhaan.com

mahadsunnah.com 

بسم الله الرحمن الرحيم

اولنی حصه

1

زما ایمان

زه مسلمان یم

اللّٰه زما رب دي.
محمد صلی اللّٰه علیه وسلم زما نبي دي.
او اسلام مي دين دي.

زه د اللّٰه تعالی سره محبت کوم:
ځکه چه اللّٰه د ټولي دنيا رب دي، رحمن او رحيم دي او د قيامت دورځي مالک او بادشاه دي.
او ځکه چه اللّٰه زه پيدا کړي يم رزق راکوي او مسلمان يي ګرځولي يم.



اللّٰه تعالی فرمايي:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ 1
الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ 2 الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ 3 مَالِكِ
يَوْمِ الدِّينِ 4 إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ 5 اهْدِنَا
الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ 6 صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ
غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ 7

الفاتحة.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت کوم:
ځکه چه الله تعالی مونږ ته رسول رالیږلي دي،
مونږ ته یي د الله معرفت راښودلي دي، او قران یي راته ښودلي دي.
او ځکه چه هغه روف رحیم دي،دلوي اخلاقو خاوند دي،او ښایسته صفاتو خاوند دي،



الله تعالی فرمایي:

«وانک لعلی خلق عظیم٧ »

القلم 68: 4

او فرمایي

«

بالمؤمنین رؤوف رحیم

»

At-Tawbah 9: 128.

قال الله تعالى

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ 1
فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ 2
إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ 3

سورة الكوثر

او اسلام دين سره هم مينه كوم:

ځكه چه دا حق دين دي او الله تعالى زمونږ لپاره خوښ کړي دي،او همدا دين رسول الله صلى الله عليه وسلم راوړي دي،چاچه دا دين راخپل کړو جنت ته به دا خل شي او چاچه پریښودلو نو اور ته به داخل شي.

الله تعالى فرمايي

وَالْعَصْرِ 1 إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ 2 وَتَوَاصَوْا
بِالصَّبْرِ 3

العصر

دایمان شپږ ارکان دي:

6

1 ١ – په الله باندي ایمان

2 ٢ – په ملائکو باندي ایمان.

3 ٣ – په اسماني کتابونوایمان.

4 ۴ – په رسولانو باندي ایمان.

5 ۵ – داخرت په ورځ ایمان.

6 ۶ - تقدیر خیر او شر باندي ایمان.

او داسلام پنځه ارکان دي

5

1 ١ – دلا اله الا الله او أن محمد رسول الله کلمي ګواهي ورکول.

2 ٢ – لمونځ قائمول.

3 ٣ – زکات ورکول.

4 ۴ – روژه نیول.

5 ۵ - حج کول.

ټول هر هغه څه سره مینه لرم خوښوم یي کوم چه الله تعالی او د الله رسول خوښوي.
او هر هغه څه چه الله او رسول یي نه خوښوي زه یي نه خوښوم.



دويمه حصه

2

زما لمونځ

الله تعالی ددي لپاره پيدا کړي يو صرف دالله وحده
عبادت وکړو،نو د الله نه بغير دبل چا عبادت نه کوو او نه
د هغه نه بغير بل چانه مدد غواړو.

او لوي عبادت لمونځ دي

5 او فرض لمونځونه پنځه دي



دسهار	2	رکعته کوم
دغرمي	4	رکعته کوم
دمازیگر	4	رکعته کوم
د مانبام	3	رکعته کوم
- د ماسخوتن	4	رکعته کوم



او د هر لمونځ په خپل وخت کولو باندي پابندي کوم، او په عاجزۍ سره یي اداء کوم.



او د لمونځ نه مخکي اودس کوم، داودس نه بغیر کله هم لمونځ نه کوم.



دریمه حصه

3

زما اخلاق

الله تعالی ښایسته اخلاق خوښوي او بد اخلاق نه خوښوي
او نبي صلی الله علیه وسلم ددي لپاره راغلي دي چه ښه
اخلاق پوره کړي خلکو ته يي وښايي.
نو په ما باندي لازم دي چه ښه اخلاقو باندي ځان ښايسته
کړم.

**لکه ریشتیا وییل،وعده باندي وفاء کول،دامانت
خیال ساتل،شجاعت، سخاوت،ښایسته
اخلاق،داستاد احترام، او د مشرانو عزت کول**

او د بدو اخلاقو او عادتونو نه ځان وساتم:
لکه دروغ ،خیانت،بزدلي،بخل،غلط الفاظ خبري،او دخلکو احترام نه کول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

دقیامت په ورځ تاسو کي ماته نژدي هغه څوک دي چه دنیا کي چا
اخلاق ښایسته وي.



خاتمة


علم رڼا ده او جهالت تياري دي.

نو د علم حاصلولو کوشش کوم،ددي لپاره چه رب رانه راضي شي،او جنت ته مي داخل کړي.

او اذکار د مسلمان لپاره قلعه ده ساتونکي دي:

نود سهار او ماښام اذکارو باندي اهتمامکوم،چه ددي نه ايت کرسي او معوذتين دي.

او هر وخت کي الله نه ډيري دعاګاني غواړم: په سجدو کي،او د اذان نه وروسته،او دشپي.



او ځیني ددعاګانو نه:

یا اللّٰه ماته هدایت وکړي

یاالله زما علم کي اضافه وکړي

یا اللّٰه ماته او زما مور او پلار ته بخښنه وکړي، او رحم ورباندي وکړي.

دا کتابچه د اللّٰه په مرسته او مرسته بشپړه شوه.

ټولې ستاینې یوازې د اللّٰه لپاره دي.

کوچنی مسلمان په عربي. د شیخ هیثم
سرهان په مشری د لوبې او سټوډیو ویب
پاه کې ځړول شوی.

دا کتاب ماشومانو ته د اسلام ریښتیني
اصول او دودونه ور زده کوي.

کتاب په زړه پوري ډول لیکل شوی چې له
موادو سره علاقه پیدا کوي او دا په
ځانګړي ډول زړه راښکونکی کوي.